# آداب السفر وأحكامه (للجمعية)

# د سفر آداب او احکام

## د سفر آداب او احکام

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

أما بعد:

دا د سفر د آدابو او احکامو په اړه یو لنډ پیغام دی چې هڅه مو کړې ده چې هغه مسائل بیان کړو چې مسافر ورته اړتیا لري.

مونږ له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې خاص د خپلې رضا لپاره يې وګرځوي او عامو مسلمانانو ته پرې ګټه ورسوي.

په (بېلابېلو) ژبو د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه

***لومړی: د سفر آداب***

هر څوک چې د حج یا نورو عبادتونو لپاره سفر کوي، باید لاندې چارو ته پاملرنه وکړي:

۱. که چیرې لارې ډېرې وي، نو باید د وخت، سپارلۍ، ملګري او لارې په اړه له الله تعالی څخه لارښوونه وغواړي (استخاره وکړي) که چېرې لارې ګڼې وي، او په دې اړه باید له تجربه لرونکو او نېکانو خلکو سره مشوره وکړي، او په حج او عمره کې له شک پرته چې خیر دی. د استخارې طریقه دا ده چې دوه رکعته لمونځ وکړي او بیا له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه په نقل شوو الفاظو دعا وغواړي.

په حج او عمره کوونکي واجب دي چې قصد يې د الله تعالی رضا او هغه ته ځان نږدې کول وي او دا چې بايد له دنيوي ګټو، وياړ، لقبونو ترلاسه کولو، يا ځان ښودنې او شهرت غوښتنې څخه ځان وساتي، ځکه دا د عمل د بربادېدو او نه قبليدو لامل ګرځي، الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا﴾

(ته (دوی ته) ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې زه ستاسو په شان بشر يم، ما ته وحي کيږي چې بېشکه ستاسو معبود يواځې يو معبود دی، نو هغه څوك چې د خپل رب د ملاقات تمه لري، هغه دې نېك عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هيڅوك نه شريکوي). [الكهف: ۱۱۰] او په قدسي حديث کې راځي:

«أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ» [1].

«زه له شرک نه تر ټولو ډېر بې حاجته شريکوال يم، نو څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پرېږدم»[1].

۳. حج او عمره کوونکی بايد له سفر نه وړاندې د عمرې او حج په احکامو ځان پوه کړي، او مخکې له دې چې سفر

---

1 مسلم په (۲۹۸۵شميره روايت کړی).

وکړي حکمونه يې زده کړي، تر څو ترې کوم واجب پاتې نه شي يا حرام ونه کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

«مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ» [2].

«چا ته چې الله تعالی د خير اراده وکړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي».[1]

۴. حج او يا عمره کوونکی بايد د حج او عمرې لپاره حلالې پيسې غوره کړي. ځکه چې الله تعالی پاک دی او يوازې هغه څه مني چې پاک وي؛ او ځکه چې حرامې پيسې د دعا د نه قبلېدو لامل ګرځي.

۵. بايد له ټولو ګناهونو او سرغړونو توبه وباسي او که د خلکو حقونه ورسره وي بېرته يې ورووګرځوي او ځانونه ترې خلاص کړي، هغه که جنس وي يا مال او يا بل څه.

۶. مسافر ته مستحب دي چې د هغه څه په اړه وصيت وليکي چې څه يې د چا سره دي يا د چا څه ورسره دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

«مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ» [3]

«مسلمان ته نه ښايي چې د وصيت کولو لپاره يو څه ورسره وي، او دوه شپې له وصيت ليکلو پرته تېرې کړي»[2] او يو څوک دې پر ګواه کړي، پوروونه دې خلاص کړي، امانتونه

---

[1] بخاري په: (۲۷۳۸)، او مسلم په: (۱۶۲۷) شمېره روايت کړی.
[2] أبو داود په: (۴۸۳۳) شميره روايت کړی.

دې خپلو خاوندانو ته وسپارې یا دې له خاوندانو اجازه واخلي چې ورسره پاتې شي.

٧. د مسافر لپاره مستحب دي چې د یو ښه ملګري د غوره کولو هڅه وکړي، او داسې یو څوک د ملګرتیا لپاره وټاکي چې د شرعي زده کړو زده کوونکی وي؛ دا د هغه د بریالیتوب او په سفر، حج او عمره کې له غلطیو څخه د ژغورل کېدو لامل ګرځي، دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی چې فرمایي:

«الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ» [4]؛

"سړی د خپل ملګري د دین پیروي کوي، نو په تاسو کې دې څوک وګوري چې له چا سره خالصه ملګرتیا کوي»[1] او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم- دا وینا:

«لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا، وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ».

«یوازې د مؤمن ملګرتیا کوه، او ستا خواړه دې یوازې تقوا دار وخوري».[2]

٨. مسافر ته مستحب دي چې د خپلې کورنۍ، خپلوانو، ګاونډیانو او ملګرو سره مخه ښه وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ أَرَادَ أَنْ يُسَافِرَ فَلْيَقُلْ لِمَنْ يُخَلِّفُ: أَسْتَوْدِعُكُمُ اللَّهَ الَّذِي لَا يُضِيعُ وَدَائِعَهُ» [6]،

«څوک چې د سفر اراده ولري، هغه دې خپلو شاته پاتې کسانو ته ووایي: پر هغه الله مو سپارم چې ورسپارل شوي

---

1 أبو داود په: (٤٨٣٢) او ترمذي په: (٢٣٩٥) شمېرو روایت کړی.

2 طبراني په: (٨٢٣) شمېره روایت کړی.

امانتونه ورسره نه ضایع کیږي»،[1] او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرو کې به چې چا سفر کاوه نو په مخه ښه کې به یې ورته ویل:

«أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ»[7]،

«أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ»

«زه ستا دین، امانت او د کار پایلې الله ته سپارم»،[2] او هغه صلی الله علیه وسلم به هغو مسافرو ته چې له هغه څخه به یې د وصیت غوښتنه کوله ویل:

«زَوَّدَكَ اللَّهُ التَّقْوَى، وَغَفَرَ ذَنْبَكَ، وَيَسَّرَ لَكَ الخَيْرَ حَيْثُ مَا كُنْتَ» [8]

«الله تعالی دې تقوا توخه وګرځوه، ګناهونه دې وبخښه، او ستا لپاره دې نیکي اسانه کړي په هر ځای کې چې یاست»[3]

او یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی چې د سفر اراده یې درلوده، ورته یې وویل: ای د الله رسوله! وصیت راته وکړه، هغه ورته وویل:

«أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ، وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ» فَلَمَّا مَضَى قَالَ: « اللَّهُمَّ ازْوِ لَهُ الْأَرْضَ، وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ» [9].

«د الله تعالی څخه په ویرېدلو درته سپارښتنه کوم، او په هر لوړ ځای د پورته کېدلو پر مهال د تکبیر ویلو»، کله چې ولاړ،

---

1 أحمد په خپل مسند کې په: (۴۵۲۴) شمیره روایت کړی.

2 ترمذي په: (۳۴۴۴) شمیره روایت کړی دی.

3 أحمد په خپل مسند کې په: (۹۷۲۴) شمیره روایت کړی.

نو ويې ويل: «ای الله! څمکه ورته راغونډه کړې (سفر يې لنډ کړې) او سفر ورته اسانه کړې».[1]
9.په سفر کې به له ځان سره زنګ (ګونګرو)، د موسيقۍ الآت او سپی نه وړي؛ دليل يې د ابو هريره رضی الله عنه حديث دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:
«لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ» [10].
«ملايکې د هغې ډلې ملګرتيا نه کوي چې سپی يا زنګ پکې وي».[2]
١٠. که له يوې ښځې يې زياتې درلودې او غوښتل يې چې يوه يې له ځان سره په سفر کې ملګرې کړي، نو تر منځه دې قرعه واچوي، د هرې يوې قرعه چې راووته همغه دې له ځان سره بوځي؛ دليل يې د عائشې رضي الله عنها حديث دی چې فرمايي:
«كَانَ رَسُولُ اللهِ صلی الله عليه وسلم: إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ، فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ» [11].
«کله چې به رسول الله صلی الله عليه وسلم غوښتل سفر وکړي، نو د خپلو ميرمنو ترمنځ به يې قرعه واچوله، د هر چا قرعه به چې راووته، هغه به يې له ځان سره وړله».[3]
١١. که چيرته امکان ولري، د پنجشنبې په ورځ دې د ورځې په پيل کې سفر وکړي، دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم عمل دی. کعب بن مالک رضی الله عنه فرمايلي:

---

1 مسلم په: (٢١١٣) شميره روايت کړی.
2 بخاري په: (٢٥٩٣)، او مسلم په: (٢٧٧٠) شمېره روايت کړی.
3 بخاري په: (٢٩٤٩) شميره روايت کړی.

«لَقَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَخْرُجُ إِذَا خَرَجَ فِي سَفَرٍ إِلَّا يَوْمَ الْخَمِيسِ» [12].

«رسول الله صلى الله عليه وسلم به ډېر کم د پنجشنبې له ورځې پرته په سفر ووت».[1]

۱۲. ورته مستحب دي چې د سفر او يا بل څه لپاره له کور څخه د وتلو پر مهال مسنونه دعا وغواړي او د وتلو پر مهال ووايي:

«بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، اللَّهمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ» [13].

«بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، اللَّهمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ».

«د الله په نوم، زه په الله توکل کوم، ځواک او قوت نشته مګر په الله، الهی! زه تا ته پناه وړم له دې چې لاروركى شم، يا مې بل څوک بې لارې کړي، يا څوک وښويوم، او يا زه اوښويولى شم، يا ظلم وکړم، او يا ظلم را سره وشي، يا خلکو ته ضرر او نقصان ورسوم، يا را ته ضرر راورسولى شي او چې زه د جهالت کار وکړم او يا زما سره وشي».[2]

۱۳. ورته مستحب دي چې د سفر دعا ووايي؛ کله چې په خپلې سپرلۍ، موټر، طياره او يا بل ډول سپرلۍ سپرېږي نو ودې وايي:

---

[1] أبو داود په: (۵۰۹۴) شميره روايت کړی.

[2] وعثاء السفر: د سفر سختي. الإفصاح عن معاني الصحاح (۴/ ۲۸۴).

«اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ ثُمَّ يَقُولُ: {سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ} [الزخرف: 14] اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا السَّفَرَ، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ المنظر، وسوء الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ..».

«اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ ثُمَّ يَقُولُ: {سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ} [الزخرف: 14] اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا السَّفَرَ، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ[1] السَّفَرِ، وَكَآبَةِ المنظر[2]، وسوء الْمُنْقَلَبِ[3] فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ..»[4]

"الله لوی دی، الله لوی دی ، الله لوی دی. پاکي ده هغه ذات لره چې زموږ لپاره يې دا (سپرلۍ) تابع کړې ده، حال دا چې موږ د هغې مهاروونکي نه وو، او بېشکه موږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي يو. (الزخرف سورت ۱۴ آيت). يا الله په دې سفر کې ستا څخه د نيکيو، تقوا او هغه عمل سوال کوو چې ستا خوښ وي، يا الله موږ ته دغه سفر آسانه کړې، او د

1 د خفګان او ماتېدو له امله ناوړه حالت . الإفصاح عن معاني الصحاح (۴/ ۱۸۴).

2 (المنقلب): راګرځيدل. الإفصاح عن معاني الصحاح (۴/ ۲۸۴).

3 أحمد په خپل مسند کې په: (۶۳۷۴) کې روايت کړی.

4 بخاري په: (۲۹۹۸) شميره روايت کړی.

دې سفر اوږد والی له موږ څخه لرې کړې، اې الله ته په سفر کې ملګری او په کور کی سرپرست یې، اې الله زه تا ته پناه دروړم د سفر له سختیو (۱۴) له زړه بوګنوونکي منظر (۱۵) او کور ته د ستنیدو پر مهال له ناوړه پیښې څخه (۱۶) په مال او اولاد کې...»(۱۷)

۱۴. ورته مستحب دې چې یوازې له ډلې پرته سفر ونه کړي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ» .[18]

«که خلک د یوازی والي په اړه په هغه څه پوهیدی چې زه پرې پوهیږم، نو هېڅکله به څوک د شپې لخوا یوازې په سپرلۍ نه و سپور شوي ».[1]

۱۵. د دې لپاره چې د مسافرو یووالی او اتفاق وساتل شي او په ځواکمنتیا سره خپلې موخې تر لاسه کړي نو په خپلو کې دې یو تن پر ځان آمر وټاکي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«إِذَا خَرَجَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ» [19].

«کله چې په سفر درې نفره وځي، نو یو دې پکې مشر وګماري».[2]

۱۶. باید د هغو اطاعتونو ترسره کولو ته لیواله وي چې الله تعالی پرې امر کړی او له حرامو څخه ځان وساتي او دا چې ځان په ښو اخلاقو سمبال کړي، له هغو کسانو سره مرسته

---

[1] أبو داود په: (۲۶۰۸) شمیره روایت کړی.

[2] أحمد په خپل مسند کې په: (۱۷۷۳۶) شمیره روایت کړی.

وکړي چې همکارۍ او مرستې ته اړتیا لري او هغو خلکو ته علم ورزده کړي چې غوښتونکی يې وي او اړتیا ورته لري، په خپل مال کې سخي وي او د خپل ځان او خپلو ورنو په ګټه او د هغوی د اړتیاوو د پوره کولو لپاره يې وکاروي.

۱۷. په کار ده چې د سفر لګښتونه او اړتیاوې زیاتې چمتو کړي، ځکه کیدی شي اړمن شي او چارې بدلې شي.

په کار ده چې په دې ټولو چارو کې ټنده پراخه وساتي، د خوښۍ اظهار وکړي، او هڅه وکړي چې د ملګرو په زړونو خوښۍ ورددننه کړي؛ تر څو خلکو کې ځای او محبوبیت پیدا کړي.

هغه باید د خپلو ملګرو پر جفا او د نظر سره يې د هغوی پر مخالفت صبر وکړي او په نرمۍ ورسره چلند وکړي، او ښه چلند ورسره کوي، ترڅو يې په منځ کې درناوی وشي او په درنه سترګه ورته وګوري.

کله چې مسافر په یو ځای کې استوګن شي، ورته مستحب دي چې سره یو بل ته نږدې نږدې شي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام به چې کله په کوم ځای کې استوګن شول نو په درو او خوړونو کې به سره خواره واره شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ» [20]،

«په دې ناونو او خوړونو کې ستاسو خواره واره کېدل په تاسو کې د شیطان کار دی»،[1] نو بیا به سره یوبل ته نږدې نږدې کېدل، تر دې چې که یو ټاڅادر به دې پرې خپور کړ، ټولو ته رسېده.

۲۱. کله چې په سفر او یا بل څه کې په یو ځای کې استوګن شي، ورته مستحب دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په ثابته دعاګانو سره دعا وغواړي:

«أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ» [21]؛

«د الله په بشپړو کلمو سره پناه نیسم د هر هغه شي له شر څخه چې هغه پیدا کړی دی؛[2] کله یې چې دا دعا وویله: هیڅ شی به ورته زیان ونه رسولای شي، تر دې چې له هغه ځایه لاړ شي.

۲۲. ورته مستحب دي چې په لوړو ځایونو د پورته کېدو پر مهال (الله اکبر) او ټیټو ځایونو او کندو ته د ښکته کېدو پر مهال: (سبحان الله) ووایي، جابر رضي الله عنه فرمایي: «موږ به د پورته کېدو پر مهال الله اکبر، او د ښکته کېدو پر مهال سبحان الله ویل "،[3] او په تکبیر ویلو سره به غږونه نه پورته کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَإِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا إِنَّهُ مَعَكُمْ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ» [23].

---

1 مسلم په ( (۱۷۰۸) شمیره روایت کړی.

2 بخاري په: (۲۹۹۴)، شمیره روایت کړی.

3 بخاري په: (۲۹۹۳) شمیره روایت کړی.

«ای خلکو پر ځانونو نرمي وکړئ، تاسو کوڼ او غائب ته اوازونه نه کوئ، هغه له تاسو سره دی او هغه اورېدونکی او نزدې دی».[1]

۲۳. ورته مستحب دي چې د شپې لخوا سفر وکړي، په ځانګړې توګه د شپې په لومړۍ برخه کې، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

««عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ؛ فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ» [24].

«سفرونه مو د شپې وکړئ، ځکه په شپه کې ځمکه راغونډیږي».[2]

۲۴. ورته مستحب دي چې په سفر کې زیاتې دعاګانې وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ: دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ» [25].

«درې دعاګانې له شک پرته قبلیږي: د مظلوم دعا، د مسافر دعا او د پلار خبرا خپلو اولادونو ته».[3]

***

## دویم: په سفر کې طهارت

مسافر ته په کار دي چې پاکوالي ته پاملرنه وکړي، له وړې بې اودسۍ اودس او له جنابت څخه دې غسل وکړي.

1 أبو داود په: (۲۵۷۱) شمیره روایت کړی.
2 أحمد په خپل مسند کې په: (۱۰۷۷۱) روایت کړی.
3 بزار په خپل مسند کې په: (۱۰۰۶۸) شمېره روایت کړی دی.

که اوبه ونه مومي، یا دومره اوبه ولري چې خوراک او څښاک ته یې بسنه کوي، تیمم دې ووهي.

د تیمم طریقه دا ده چې: دواړه لاسونه دې په ځمکه ووهي، مخ او دواړه لاسونه دې پرې مسح کړي.

او د تیمم پاکوالی لنډمهاله پاکوالی دی، هر کله چې اوبه وموندل شي، باید اوبه وکاروي او تیمم یې باطلیږي، کله چې د لوی نجاست لپاره تیمم وکړي او بیا اوبه ومومي غسل کول پرې واجب دی، او که یې له قضاې حاجت څخه تیمم وهلی وي او بیا اوبه ومومي، باید اودس وکړي. په حدیث کې راځي:

«الصَّعِيدُ الطَّيِّبُ وَضُوءُ المُسْلِمِ وَإِنْ لَمْ يَجِدِ المَاءَ عَشْرَ سِنِينَ، فَإِذَا وَجَدَ المَاءَ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ، وَلْيُمِسَّهُ بَشَرَتَهُ» [26].

«پاکه خاوره د مسلمان لپاره پاکوونکې ده، که څه هم لس کاله اوبه ونه مومي، کله یې چې اوبه وموندلې نو د الله څخه دې وویریږي او ودې کاروي ».[1]

د قرآن، سنت او اهل سنت په اجماع سره په موزو مسح کول روا دي.

په موزو او ورته شیانو د مسحې کولو شرطونه په لاندې ډول دي:

١.چې موزې یا جرابې جائز او پاکې وي.

٢. چې د پاکوالي په حالت کې یې واغوندي.

[1] بخاري په: (١٨٠۴)، او مسلم په: (١٩٢٧) شمېره روایت کړی.

۳. هغه غړی يې پټ کړی وي چې (په اودس کې يې وينځل) فرض دي.

۴. چې مسح په وړې بې اودسۍ کې وي، په جنابت او هغه څه کې مسح روا نده چې له امله يې غسل کيږي.

۵. مسح بايد د شريعت له مخې په ټاکل شوي وخت کې وي، چې د استوګن (مقيم) لپاره يوه ورځ او شپه او د مسافر لپاره درې ورځې او شپې ده، دا موده د صحيح نظر له مخې د بې اودسۍ پسې له لومړۍ مسحې څخه پيليږي، يعنې د مقيم لپاره څلورويشت ساعته او د مسافر لپاره دوه اويا ساعته وخت لري.

په موزو مسح کول په دريو کارونو سره باطليږي:

۱. داسې يو څه رامنځته شي چې له امله يې غسل واجبيږي لکه جنابت، نو مسح باطليږي او بايد غسل وشي.

۲. کله يې چې له مسحې وروسته وباسي.

۳. کله چې شرعي معتبره نېټه پای ته ورسيږي مسح باطليږي.

***

### *دريم: په سفر کې د لمانځه لنډولو (قصر) احکام:*

په سفر کې د لمانځه لنډول د پوره لمونځ څخه غوره دي. خو که مسافر څلور رکعتي لمونځ پوره وکړ، لمونځ يې صحيح دی، خو د غوره کار خلاف کار يې کړی دی.

که مسافر د خپل کلي یا ښار له ټولو کورونو څخه ووت، قصر کوي، او دا د جمهورو علماوو نظر دی.

او که چیرته یې د لمانځه د وخت له داخلېدو وروسته سفر وکړ، نو کولی شي قصر وکړي، ځکه چې هغه د لمانځه د وخت له پای ته رسیدو مخکې سفر کړی دی.

او د مسافر لپاره د ماسپښین او مازدیګر، ماښام او ماخوستن لمونځونه یو ځای کول سنت دي، کله چې ورته اړتیا وي، کله چې سفر ته ادامه ورکوي، نو د لمونځونو په یو ځای کولو کې به هغه طریقه کاروي چې ده ته پکې اسانتیا وي، یا د تقدیم جمع یا د تأخیر (چې مازدیګر ماسپښین ته رامخکې کړي او یا ماسپښین مازدیګر ته وروسته کړي، همداسې په ماښام او ماخوستن کې).

او که مسافر د لمونځونو یو ځای کولو ته اړتیا نه درلوده نو نه دې یو ځای کوي لکه چې په یو ځای کې استوګن شي او هغه مهال ترې روانیږي چې د دویم لمانځه وخت داخل شي، نو غوره دا ده چې یو ځای یې نه کړي؛ ځکه چې اړتیا ورته نه لري، له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کې په منی کې لمونځونه سره یو ځای نه کړل؛ ځکه چې اړتیا ورته نه وه.

او په نفلي لمونځونو کې؛ نو مسافر هم لکه د مقیم په څېر نفلي لمونځونه کولی شي، لکه د څاښت لمونځ، تهجد او داسې نور نفلي لمونځونه، پرته د ماسپښین، ماښام او ماخوستن له راتبه نفلو څخه، ځکه په هغې کې سنت طریقه دا ده چې پرېښودل شي.

نفل لمونځ په سپرلۍ کېږي لکه: طیاره، موټر، بېړۍ او داسې نور د ترانسپورټ وسایط، او د فرض لمانځه لپاره باید ښکته شي، مګر دا چې له ښکته کېدلو عاجز و.

د مقیم پسې د مسافر لمونځ صحیح دی، او مسافر به هم لکه د خپل امام په څېر لمونځ پوره کوي، برابره خبره ده که ټول لمونځ یې لاندې کړی و، یا یو رکعت او یا لږ، آن که په وروستي تشهد کې له سلام اړولو مخکې د امام سره یو ځای شو لمونځ به پوره کوي، او همدا د علماوو له دوو قولونو څخه صحیح یو دی.

***

## ځلورم: د حج، عمرې یا سفر څخه د راستنیدو آداب

په کار ده چې له سفر څخه په بیرته راستنیدو کې بیړه وکړي او له ضرورت پرته اوږد پاتې نشي؛ رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي:

«السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ، يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَنَوْمَهُ، فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ» [27].

« سفر د عذاب یوه ټوټه ده، چې سړی له خوړلو، څښلو او خوب څخه منع کوي، نو کله چې ستاسو څخه یو کس خپلې اړتیاوې پوره کړې، خپلې کورنۍ ته دې په بیړه لاړ شي».[1]

کله چې خپل هېواد ته د راستنیدو اراده وکړي، نو په سپرلۍ د سپرېدو پر مهال دې د سفر دعا ووایي او دا الفاظ دې پرې ورزیات کړي:

---

[1] بخاري په: (۱۷۹۷)، او مسلم په: (۱۳۴۲) شمېره روایت کړی.

«آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ» [28].
(آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ). (موږ په خېر سره ستنېدونکي، له ګناهونو څخه توبه کوونکي، د الله خاص عبادت کوونکي، او د الله په نعمتونو شکر ویستونکي یو».[1]

ورته مستحب دي چې له سفر څخه د راستنیدو پر مهال هغه څه ووای] چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي، کله به چې هغه له کومې غزا، حج او یا عمرې څخه راستنېده، نو د ځمکې په هره لوړه به چې خوته درې تکبیرونه به یې ویل او بیا به یې ویل:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، سَاجِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ».

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، سَاجِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ».[2]

"له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه یو دی، شریک نه لري، هغه لره پاچاهي ده، ستاینه هغه لره ده، او هغه په هر څه قادر دی، موږ بیرته راګرځېدونکي، توبه کوونکي، عبادت کوونکي، سجده کوونکي، د خپل رب ستاینه کوونکي یو. الله

---

1 بخاري په: (۴۱۱۶) شمیره روایت کړی.
2 بخاري په: (۱۷۹۷)، او مسلم په: (۱۳۴۲) شمیره روایت کړی.

خپله ژمنه پوره کړه، او خپل بنده ته يې فتح ورکړه، او يوازې يې ډلو ته ماتې ورکړه".

د خپل کلي د لېدو پر مهال ورته مستحب دي چې ووايي:

«آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ»،

«آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ»[1]،

«موږ په خير راګرځيدونکي، له ګناهونو څخه توبه کوونکي، د الله خاص عبادت کوونکي، او د الله په نعمتونو شکر ويستونکي يو"، دا الفاظ به تر هغه پورې تکراروي چې خپل کلي ته ننوځي؛ دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم عمل دی.

که چېرته له ډېرې مودې وروسته راغلی و، نو له اړتيا پرته دې سم دلاسه خپلې کورنۍ (ښځې) ته د شپې لخوا نه ورځي مګر دا چې مخکې يې خبر ورکړی وي او د شپې مهال يې د ورتګ ورته ويلي وي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې کار څخه منع کړې ده، جابر بن عبدالله رضي الله عنهما فرمايلي:

«نَهَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَطْرُقَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ لَيْلًا» [31]،

"رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې منع فرمايلې چې سړی د شپې له خوا د خپلې کورنۍ دروازه وټکوي".[2] په دې کې حکمت هغه دی چې بل روايت تشريح کړی دی.

---

[1] مسلم په (۷۱۵) شميره روايت کړی.

[2] (الشعثة): هغه ښځه چې له ډېرې مودې يې ويښتان غوړ او ګمنځ کړي نه وي.

«حَتَّى تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ [32]، وَتَسْتَحِدَّ الْمَغِيبَةُ» [33]،
«تر څو چې جړیږ سر والا خپل سر ګمنځ کړي، او هغه چې خاوند يې له ډېرې مودې څخه غايب وي نو خپل ځان به پاک کړي»،[21] او په يو بل روايت کې راځي:
«نَهَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَطْرُقَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ لَيْلًا، يَتَخَوَّنُهُمْ أَوْ يَلْتَمِسُ عَثَرَاتِهِمْ» [34].
«رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې کورنۍ ته (د بدګمانۍ له مخې) له ناخاپه ورتلو منع فرمايلې ده چې خيانت يې معلوم کړي يا يې د اشتباهاتو پسې ګرځي چې معلوم يې کړي».[3]

له سفر څخه د راتلوونکي کس لپاره مستحب دي چې تر ځنګه جومات ته لومړی ورشي او دوه رکعته لمونځ پکې وکړي، ځکه چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم کړي دي.

د مسافر لپاره مستحب دي چې کله له سفر څخه راستون شي، نو د خپلې کورنۍ او ګاونډيانو له ماشومانو سره دې مهربانه اوسي، او د هرکلي پر مهال دې ورسره نيک چلند وکړي، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې کله پيغمبر صلى الله عليه وسلم مکې ته ورسيد، نو د بنو عبدالمطلب ځوانانو يې هرکلی وکړ، نو يو يې د ځان سره

---

او (الاستحداد): د اوسپنيزې آلې کارول لکه: (پاکي). او: (المغيبة): هغه ښځه چې خاوند يې ترې لرې تللی وي. التحرير في شرح صحيح مسلم - الأصبهاني (ص ٢٩٢).

1 مسلم په (٧١٥) شميره روايت کړی.

2 نسائي په: (٩٠٩٩) شميره روايت کړی.

3 مسلم په (٢٤٢٨) شميره روايت کړی.

مخکې او بل يې شاته سپور کړ. او عبد الله بن جعفر رضي الله عنه وايي:

"كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عليه وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِنَا، قَالَ: فَتُلُقِّيَ بِي وَبِالْحَسَنِ أَوْ بِالْحُسَيْنِ، قَالَ: فَحَمَلَ أَحَدَنَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَالْآخَرَ خَلْفَهُ حَتَّى دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ" [35].

«رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله له سفر څخه راوګرځيد نو موږ به هرکلي ته ورروستل کېدلو، نو يو ځل زه او حسن؛ يا حسين هرکلي ته ورروستل شو، نو زموږ څخه يې يو مخې او بل د ځان پسې شاته سپور کړ، تر دې چې مدينې ته ننوتلو».[1]

ډالۍ ورکول مستحب دي، ځکه چې په ډالۍ سره زړونه ښه کيږي او کينه پرې له منځه ځي، او قبلول او پرې بدله ورکول هم مستحب دي، او له کوم شرعي خنډ پرته يې بېرته ورکول مکروه دي؛ لدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«تَهَادُوا تَحَابُّوا» [36].

«يو بل ته سره ډالۍ ورکړئ چې خپلمنځي مينه مو سره پيدا شي».[2] او ډالۍ د مسلمانانو تر منځه د مينې او محبت له اسبابو څخه يو سبب دی.

کله چې مسافر خپل هېواد ته راشي نو غاړه ورکول مستحب دي؛ د هغه حديث له مخې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له اصحابو څخه ثابت دی، لکه څرنګه چې أنس

---

1 بيهقي په «السنن الكبرى» کې په: (۱۱۹۴۶) شمېره روايت کړی دی.
2 طبراني په الأوسط کې په: (۹۷) شمېره روايت کړی.

رضي الله عنه فرمایلي: "کله به چې سره مخ شول نو لاسونه به يې سره ورکول او کله به چې له سفر څخه راستانه شول نو يو بل ته به يې سره غېږې ورکولې.[1]

وصلى الله وسلم على نبينا محمد.

---

1 بخاري په: (۳۱۱۶)، او مسلم په: (۱۰۰) شمېره روایت کړی.

# فهرست

د سفر آداب او احکام ........ 2
لومړی: د سفر آداب ........ 2
دويم: په سفر کې طهارت ........ 13
دريم: په سفر کې د لمانځه لنډولو (قصر) احکام ........ 15
څلورم: د حج، عمرې يا سفر څخه د راستنيدو آداب ........ 17

ps401v3.0 - 06/09/2026